# په کابل او هندکې د بابر واکمني



ليکوال: صباحت عظيم جانوفنه عظيم جانووا
ژباړونکی: څېړنپوه ډاکټر محمد شريف ځدراڼ

۱۳۹۸ هـ ش

په کابل او هندکې د بابر واکمني
ليکوال: صباحت عظيم جانوفنه عظيم جانووا
ژباړونکی: څېړنپوه ډاکټر محمد شريف ځدراڼ
۱۳۹۸ هـ ش

# The Reigh of Babur in Kabul and India



Author: Sabahat Azim J.A.J.
Translated: Prof. Dr. M. Sharif Zadran

2019

ISBN 978-9936-645-66-0
9 789936 645660

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکادمي

د بشري علومو معاونیت

د ټولنیزو علومو مرکز

د تاریخ او اتنوګرافۍ انستیتیوت

# په کابل او هند کې د بابر واکمني

لیکوال: صباحت عظیم جانوفنه عظیم جانووا

ژباړونکی: څېړنپوه ډاکټر محمد شریف ځدراڼ

۱۳۹۸ هـ ش

**د کتاب ځانګړنې**

**د کتاب نوم:** په کابل او هند کې د بابر واکمني

**لیکوال:** صباحت عظیم جانوفنه عظیم جانووا

**ژباړونکی:** څېړنپوه ډاکټر محمد شریف ځدراڼ

**اهتمام:** څېړنپوه ډاکټر محمد شریف ځدراڼ

**چاپکال:** ۱۳۹۸ هـ ش

**چاپ شمېر:** ۵۰۰ ټوکه

**مطبعه:** څلوارلسمه صنعتي مطبعه

ISBN: 978-9936-645-66-0

**د چاپ حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحیم

# د مطالبو فهرست


**سرلیک** **مخ**

تقریظ ........................................ أ

د ژباړونکي سریزه...................................... ۱

د لیکوال سریزه .......................................۲۳

**لومړی فصل**

منابعوو او علمي آثارو ته لنډه کتنه .................................۲۷

**دوهم فصل**

فرغانه د پنځلسمې میلادي پېړۍ په دوهمه نیمايي او د شپاړسمې میلادي پېړۍ په پیل کې ........................................................۸۳

**درېیم فصل**

د پنځلسمې میلادي پېړۍ په بهیر او د شپاړسمې پېړۍ په پیل کې د کابل ولایت ..............................................................۹۷

**څلورم فصل**

په کابل کې د بابر د واکمنۍ پیل .......................................۱۰۹

**پنځم فصل**

د کابل ولایت اقتصادي- جغرافیایي شرح .......................... ۱۳۳

**شپږم فصل**

د بابر او افغان قبایلو ترمنځ اړیکې ........................................ ۱۴۹

**اووم فصل**

د بابر او شاه اسمعیل صفوي تر منځ دیپلوماتیکې اړیکې او د ماورأ النهر په لور ګډه لښکر کشي(۱)............................................ ۱۶۷

**اتم فصل**

شمالي هند د بابر دواک ټينګولو په درشل کې ............ ۱۹۳

**نهم فصل**

د پاني پت جګړه ............ ۲۱۷

**لسم فصل**

په شمالي هند کې د واک د ټينګولو په خاطر د بابر مبارزه (۱۵۲۶-۱۵۳۰ميلادي) ............ ۲۲۹

**يوولسم فصل**

د بابر د حاکميت پرمهال په شمالي هند کې کرنيزې اړيکې ............ ۲۴۹

**دولسم فصل**

د بابر مالياتي سياست ............ ۲۶۳
پايله ............ ۲۷۹
يادداشتونه ............ ۲۸۵

# تقریظ

به مقام محترم ریاست اکادمی علوم افغانستان!

به جواب مکتوب ۴۷۰ / ۴۷۸ مؤرخ ۱٦ / ۴ / ۱۳۹۷ آن مقام احتراماً نگاشته می شود:

«په کابل او هند کې د بابر واکمني» ترجمهٔ یک اثر روسی است که به همت سرمحقق دکتور محمد شریف ځدران به زبان پشتو برگردانی شده است، آن را مطالعه و با دقت تام تطبیق نمودم.

برداشت ها و دیدگاه هایم را به گونهٔ تقریظ ذیلاً با شما شریک می سازم:

ترجمه در برقراری ارتباط میان افراد، گروه ها و ملت ها که از هم فرهنگ و افکار متفاوت دارند، در امر آگاهی دهی و انتقال تجارب ما را یاری میرساند.

به عبارهٔ دیگر ترجمه پلی است که مردمان را در امر شناخت قضایا و رویداد های علمی ـ فرهنگی، سیاسی و نظامی پیوند می دهد.

ترجمه دیدگاه های علمی ـ فلسفی بشر را کمک نموده، فرهنگ بشری را از نسل های گذشته به انسانهای امروزی منتقل نموده و دستاوردهای تمدن بشری را محفوظ نگه میدارد.

«په کابل او هند کې د بابر واکمني» که به اثر مساعی و تلاش سخت کوشانهٔ محترم دکتور ځدران به زبان ملی پشتو برگردانی شده حاوی مطالب بسیار مفید و سودمند است که تا حال ما کتابی را در زمینهٔ استقرار حاکمیت

بابر (ظهیرالدین محمد) در افغانستان و هند با این پیمانه وسیع از معلومات مرور نکرده بودیم.

هر چند فصول چند از این اثر مختص به افغانستان است، اما تمام مسایلی که در اثر گنجانیده شده برای درک تاریخ قرون چهارده تا امروز کشور ما و منطقه از اهمیت بسزائی برخوردار می باشد.

من به نماینده گی از جامعهٔ فرهنگی کشور تلاش مترجم را می ستایم. چاپ این اثر خلایی را که در عرصهٔ تاریخ این مقطع زمانی محسوس و موجود بود مرفوع میسازد. برای مترجم خواهان حوصله فراخ در امر فعالیت های بیشتر علمی- فرهنگی از بارگاه خالق بی نیاز می باشم.

باااحترام

سرمحقق شاه محمد ((میهن ورد))

# د ژباړونکي سریزه

د صباحت عظیم جانوفنه عظیم جانووا اثر ((په کابل او هند کې د بابر واکمني)) په یوه سریزه، دولس فصلونو، نتیجه او ببلیوګرافۍ باندې مشتمل لیکل شوی دی. ددې اثر درېیم، څلورم او پنځم فصل کابل ولایت (افغانستان) ته وقف شوي دي او د شپاړسمې مېلادي پېړۍ په پیل کې د کابل ولایت (افغانستان) جغرافیایي موقعیت، اقتصادي او تجارتي اړیکې، د قومونو او ژبو پېژندنه، فرهنګي او اجتماعي حالت، په هرات کې د تیموري حکومت سیاسي حالت او د افغانانو سره د بابر دوه اړخېزې اړیکې بیانوي.

عظیم جانووا پخپل اثر کې د بابر د اصل او نسب په اړه څه نه دي لیکلي، خوزه غواړم چې د بابر پېژندلیک دلته په لنډ ډول وړاندې کړم:

د ظهیرالدین محمد بابر نسب د پلار له خوا په پنځم نسل کې ګوډ تیمورته په دې ډول رسېږي: ظهیرالدین محمد بابر بن عمر شیخ بن ابوسعید میرزا بن سلطان محمد میرزا بن میرانشاه میرزا بن امیر تیمور بیګ. [۱] دغه راز د مور له خوا په دیارلسم نسل کې چنګیزخان ته رسېږي. د بابر مور قتلق نګار خانم د مغولستان د واکمن یونس خان لوروه.

یونس خان بن ویس خان بن شیر علی او غلان بن محمد خان بن خضر خواجه خان بن تغلق تیمور خان بن ایسان بوقاخان بن واخان بن باراک خان بن ایسان تووابن متوکان بن چغتای خان بن چنګیزخان. [۲]

---

۱- ظهیرالدین محمد بابر، بابرنامه، په روسي د محمد صالح ژباړه، تاشکند، د اوزبکستان د علومو اکاډمي، ۱۹۵۸، ۱۶مخ.

۲_ ملا عبدالباقی نهاوندی، مآثررحیمی، کلکته، ۱۹۲۴، ۴۸۸- ۴۸۹ مخونه.

بابر د خپلې مور په باب داسې ليکي: ((زما د پلار لومړنۍ ښځه قتلق نګار خانم وه، دا د يونس خان شاه پاچا لوروه، چې د چنګيزخان د دوهم زوی چغتای خان له نسل څخه وه... قتلق نګار خانم، زما مور ده، هغه تل د ستونزو، کړاوونو او جګړو پرمهال له ما سره وي، ما چې کله کابل ونيو، نو پنځه يا شپږمياشتې وروسته په ۹۱۱هـ. ق. کال هغه وفات شوه)). [1]

بابر په دولس کلنۍ کې له پلاره او په درويشت کلنۍ کې له مور څخه يتيم پاتې شو. دده پلار-عمر شيخ ميرزا د ۱۴۹۴م. کال د جون پرنهمه د آخسې په کلا کې د کوتر بازۍ پروخت له بامه راولوېد او د (۳۹) کلنۍ په عمر ومړ. موريې د ۱۵۰۵م. کال د جون په مياشت کې د عصبي ناروغۍ له امله په کابل کې وفات شوه او د پغمان په نوروز باغ کې خاورو ته وسپارل شوه. [2]

د نهرو په قول، ((بابر چې د چنګيز او تيمور له نيغ په نېغه او مشترکو اولادو څخه و، نو ځکه يې تر يوې اندازې پورې لويي او پوځي نبوغ په ارث وړي وو)). [3] دغه راز ورته نظر سراولف‌کارو وړاندې کوي او ليکي: ((د بابر د شخصيت په جوړښت کې مغولي، ترکي او فارسي رېښې موجودې وې. په مېړانه جنګېده او په فتوحاتو کې يې وحشت او بې ځايه وژنه وه)) [4]

---

[1]- ظهيرالدين محمد بابر، بابري نظام، په پښتو د سيد عبدالله پاچا ژباړه، پېښور، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۳، ۸ مخ.

[2]- محمد شريف ځدراڼ، د شپاړسمې ميلادي پېړۍ په پيل کې د پښتنو د سياسي، اقتصادي او کلتوري حالت څېړنه (۱۵۰۱- ۱۵۳۰م.)، پېښور، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۹، ۷۴ مخ.

[3]- جواهر لعل نهرو، نګاهی بتاريخ جهان، لومړی ټوک، تهران، ۱۳۴۳، ۶۵۱ مخ.

[4]- سراولف کارو، پښتانه، د شېر محمد کريمي ژباړه، پېښور، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه (جرمنی)، ۱۳۷۸، ۲۳۴-۲۳۶ مخونه.

سربېره پردې بابر په فرغانه، کابل او هند کې واکمني کړې او د شپاړسمې مېلادي پېړۍ یو مشهور مؤرخ، ادیب او شاعر هم و. په چغتایي ترکي او فارسي ژبو یې لیکنې کړي، چې مشهور آثار یې بابر نامه یا تزک بابري، رساله عروض، دیوان بابر، مبین، نظم رساله والدیه، فتاوي بابري او خط بابري دي. خو د پښتنو په باب یې په بابر نامه کې خوراګټور معلومات ورکړي دي. ((بابرنامه)) د بابر د ۱۴۸۳- ۱۵۳۰م. کلونو لیدنې، کتنې، خاطرې او یادداشتونه دي.

ظهیرالدین محمد بابر د ۱۴۹۴م. کال د جون په لسمه نېټه د دولس کلنۍ په عمر د فرغانې د واکمن په توګه وټاکل شو. په ۱۵۰۴م. کال د شیباني خان په وړاندې له ماتې وروسته د فرغانې پرېښودلو ته اړشو او افغانستان ته راوتښتید. د ۱۵۰۴م. کال په سپټمبر کې یې کابل له محمد مقیم ارغون څخه ونیو او تر ۱۵۲۶م. کال پورې یې پر کابل حکمرانی وکړه، چې پر پوځي داړه‌ماریو، لوټ او تالان، ظلم او عامه وژنو باندې بناوه. په دې اړه ازبکستاني لیکوال داسې لیکي: ((بابر د خپلو شتمنیو د زیاتوالي او د واک د پراخوالي په موخه په جګړه پیل وکړ. هغه د خپل عصر زوی او د فیوډالي طبقې استازی و. د هغه سیاسي نظریات بې له شکه د نوموړې طبقې دغوښتنو تامینول وو او د هغه عملي فعالیت د حاکمې طبقې د واک د ټینګتیا لپاره د خلکو پر سخت استثمار او استعمار باندې ولاړو)). [1]

[1]- رئیس تور محمدوف عبدالقیوموویچ، ((ظهیرالدین محمد بابرو حقوق بین الدول)) مجموعه مقالات سیمینار بمناسبت پنجصدمین سال تولد ظهیرالدین محمد بابر، اکادمی علوم افغانستان، ۱۳۶۳، ۴۵- ۴۶ مخونه.

بابر د خپل پنځم یرغل په نتیجه کې سلطان ابراهیم لودي ته ماتې ورکړه او د ۱۵۲۶م. کال د می په لسمه اګرې ته ننوت او په هند کې یې د بابریانو (کورګانیانو) د سلطنت بنسټ کېښود. [۱] چې کابو ۳۳۱ کاله یې دوام وکړ.

عظیم جانووا په خپل اثر ((په کابل او هند کې د بابرواکمني)) کې د بابر په قول لیکي، چې په کابل ولایت کې له دېرشو څخه زیاتې افغاني (پښتني) قبیلې اوسي او د یو شمېر مهمو قبیلو د نومونو ذکر کوي او پشه یان هم په پښتنو ورګډوي. [۲] په داسې حال کې چې پشه یان په خته پښتانه، نه دي. زه دلته د بابرنامې له مخې ددغو پښتني قبیلولیست وړاندې کوم:

۱- نوحانی (لوهانی) ۲- سوریان ۳- لودیان ۴- غلجي، خلجي ۵- سرواڼي ۶- فرملي ۷- ګګیاڼي ۸- سړبني ۹- دلزاک ۱۰- جلواني ۱۱- نیازي ۱۲- یوسفزي ۱۳- ترکلاڼي (ترکاڼي) ۱۴- یوسف خېل ۱۵- کاکړ ۱۶- عیسی خېل ۱۷- عبدالرحمن افغان (خان خېل، سوري خېل، احمد خېل، مودي خېل، ګُنډی، منګس) ۱۸- تیرایان ۱۹- سواتي ۲۰- اپریدي ۲۱- حضرخیل ۲۲- شموخېل ۲۳- وزیر ۲۴- اورکزي ۲۵- محمدزي ۲۶- پني ۲۷- یعقوب خېل ۲۸- سارنګ خاني ۲۹- ضحاک (سهاک) ۳۰- غوري ۳۱- کیوي ۳۲- خرلیچي (خرلځي) ۳۳- باجوړي ۳۴- اوغان شال ۳۵-خوګیاڼي ۳۶- توري ۳۷- لنډر ۳۸- بنګښ ۳۹- کوراني (کرلاڼي) ۴۰- بابا حسن ابدال (شاید د کندهار له ابدالیانو څخه وي) ۴۱- شیرواني ۴۲- کیانی ۴۳- علی خېل.

---

[۱]- ظهیر الدین محمد بابر، بابرنامه، تاشکند، ۱۹۵۸، ۳۱۲ مخ.

[۲]- عظیم جانووا. ص.ع. په کابل او هند کې د بابر واکمنی، مسکو، ناوکا، ۱۹۷۷، ۷۸مخ.

بابر دغه راز پښتانه واکمنان په لنډه توګه راپېژني او په خپل اثر ((بابرنامه)) کې د هغوي د نومونو ذکر په لاندې ډول کوي:

۱- سلطان علأالدین جهانسوز ۲- سلطان غیاث الدین غوري ۳- سلطان شهاب الدین غوري ۴- سلطان علأالدین سواتي ۵- سلطان ویس سواتي۶- سلطان حیدر باجوړي ۷- سلطان ملک شاه منصور یوسفزي ۸- سلطان سکندر لودي ۹- سلطان ابراهیم لودي ۱۰- سلطان علأ الدین لودي ۱۱- سلطان محمود لودي ۱۲- سلطان علأالدین خلجي ۱۳- سلطان نصرالدین خلجی، سلطان محمد خلجي (د لازیاتو معلوماتو لپاره بابرنامه وګورئ).

بابر د اسلامي دورې د مؤرخینو په څېر ټول پښتني قبایل د ((افغان)) په نامه او د هغوی هېواد د ((افغانستان)) په نامه راپېژني. په داسې حال کې چې د پښتنو لرغونی او اصلي نوم د ویدا په سرودونو او هیرودوت په تاریخ کې پښتون ذکر شوی دی. خو د ((افغان)) نوم دوی ته لومړي ځل د هندیانو او ساسانیانو له خوا ورکړشوی دی. د بېلګې په توګه پښتانه د هندي آریایانو له خوا د ((مهاباراته)) په کتاب کې چې (۵۰۰ قبل المیلاد او د ۴۰۰ میلادي کلونو ترمنځ په هند کې د سانسکریت په ژبه کښل شوی د ((اسواکا)) او ((آسوه غانه)) په نامه یاد شوي دي. د افغانستان د لوی نابغه، متفکر او هند پېژندونکي ابوریحان بیروني په وینا افغان نوم په هغې کلمې پورې اړه لري چې په مهاباراته (**mahabarata**) کې د اسواکا (**Asvaka**) په نامه یاد شوی دی.

دغه اسواکا د ګندهارا په سیمه کې وو، چې د ویدي دورې نوم دی او دوی په هغو غرو او رغوکې اوسېدل چې په اسلامي دوره کې د سلیمان په غرو یاد شوي دي. (۱)

یو بل هندي ستوری پېژندونکی وراهامیرا (**Varahamira**) د ۵۰۵ نه تر ۵۸۷م. پورې په خپل اثر (بری هات سمهیتا (**Brihat Samhita**) کې د اواګانه (**Avagana**) نوم دوه ځلي د نورو نومونو تر څنګ راوړی دی (۲)

د هندي لیکوال ډاکتر اجای میترا شاستري په قول، بیروني د مهاباراته کتاب په اړه دقیق معلومات درلودل او د بری هات سمهیتا کتاب یې عربي ژبې ته ژباړلی و. (۳) او د اسواکا، اسوه غانا، اواګانه، اوغانا او د افغان له کلمې سره د سانسکریت آثارو له لارې آشنا شو.

دغه راز د ساسانیانو د واکمنو لومړی شاپور (۲۶۰- ۲۷۳ م.) او دریم شاپور (۳۰۹- ۳۷۹ م.) په ډبرلیکونو (نقش رستم) کې د ((ابګان)) او ((اپاکان)) ذکر راغلی چې دا یواځې کیدای شي افغانان وي. (۴) فردوسي په شاهنامه کې د ((اوګان))، ((اوغان)) او افغان درې واړه نومونه په کار وړي دي. (۵)

---

۱- پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ، پښتون، افغان، افغانستان، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۰، ۱۲۲-۱۲۵ مخونه.

۲- همدا اثر، ۱۲۷ مخ.

۳- ډاکتر اجای میتراشاستری، ((مآخذ سانسکریت بیروني))، د میرمحمد آصف ژباړه، البیروني وهند (مجموع مقالات)، اکادمي علوم، کابل: ۱۳۵۲. ۶۵، ۱۰۰ مخونه.

۴- سر اولف کارو، پښتانه، د شیرمحمد کریمي ژباړه، پېښور، ۱۳۸۷، ۱۸۱ مخ.

۵- احمد علي کهزاد، افغانستان درشاهنامه، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۵، ۲۸۹، ۲۹۲، ۲۹۴ مخونه.

بارتولد لیکي، چې د هند او هلمند ترمنځ غرنی هېواد چې د سلیمان په غرونو مشهور دی د قبل التاریخ په دوره کې دلته افغان ملت اوسېده او آریایي نژاد دی.افغانان ځانته پختون یا پښتون وایي چې جمع یې پختانا او پښتانه دي. (۱)

په اسلامي دوره کې ((حدود العالم من المشرق المغرب (۳۲۷هـ.) د افغانستان لومړنی فارسی اثر دی، چې په پکتیا او ننگرهار کې مېشت پښتانه د افغانانو په نامه راپېژني. له هغه وروسته بیا تر بابره ټولو کورنیو او بهرنیو مؤرخینو د تاریخي افغانستان په حدودو کې مېشت پښتانه د ((افغان)) په نامه راپېژندلي دي. له حدود العالم ... څخه وروسته ابونصر محمد العتبی (۹۱٦- ۱۰۳٦م.)، ابن اثیر (۱۱٦۰- ۱۲۳۴م.) ابوالفضل محمد بن بیهقی (۹۵۵- ۱۰۷۷م.)، عبدالحی گردیزی، ابوریحان البیرونی، بلخی عنصری، مسعود سعد سلمان، طوسی او فردوسی هم د افغانانو په نامه راپېژندلي دي.

د مغولو او تیموریانو د واکمنۍ هم عصرو مؤرخینو، لکه منهاج السراج جوزجانی، علأوالدین بن عطا ملک جوینی، رشیدالدین فضل الله، سیفی هروی، حمد الله قزوینی، ابن بطوطه، نظام الدین شامی، مولانا شرف الدین یزدی، مولانا نورالدین حافظ ابرو، کمال الدین عبدالرزاق سمرقندی، میرخواند، خواند میر، معین الدین زمچی اسفزاری هم پښتانه د افغانانو په نامه راپېژني. د بېلگې په توگه سیفی هروی پخپل اثر ((تاریخ نامه هرات ۱۳۱۸- ۱۳۲۱م.)) کې (۱۳) ځلې پښتانه د افغان، اوغان، افغاني، اوغاني او

[1]- و. و. بارتولد، تذکره جغرافیای تاریخی ایران، چاپ اول د حمزه سردادورطالب زاده ترجمه، تهران، چاپخانه اتحادیه، ۱۳۰۸، ۱۳۰- ۱۳۱ مخونه.

افغانیان په نامه راپېژني. (و ګورئ تاریخ نامه هرات). همدارنګه حافظ ابروهم د سیفی هروی په شان (۳۱) ځلې د افغان، اوغان، اوغاني او د اوغانیانو په نامه پښتانه راپېژني.[۱]

که څه هم د بابر په شمول کورنیو او بهرنیو مؤرخینو د ((افغان)) نوم تر څوارلسمې میلادي پېړۍ پورې پښتنو ته په کار وړلی دی، خو پښتنو ډېر وروسته د یوه ملي نامه په توګه ومانه، ځکه د دوی اصلي قومي نوم پښتون دی چې د ویدا په سرودونو او هرودوت په تاریخ کې یې ذکر راغلی دی. په افغانستان کې هر قوم یو قومي او بل ملي هویت لري. که څه هم قومي هویتونه ډېر او بېل دي، خو ملي هویت د ټولو مشترک، واحد او یو دی چې له افغان څخه عبارت دی. اته سوه کاله وړاندې د ((افغان)) نوم د افغانستان پر ټولو قومونو اطلاق شوی او یو مشترک ملي نوم او ګډ هویت جوړوي.

سیفي هروی لومړنی مؤرخ دی چې په خپل اثر ((تاریخ نامه هرات ۱۳۱۸- ۱۳۲۱م.)) کې یې د پښتون تر څنګ کردان هم افغانان وګڼل (۲) د تیموریانو د وخت لیکوال محمود کتبي هم په خپل اثر ((تاریخ آل مظفر ۸۲۳ هـ.)) کې هزاره د اوغان او اوغاني په نامه او مغول د اوغانانو په نامه راپېژني. (۳) همدغه لیکوال د همدغه اثر په دوهم ټوک کې بیا هم مغول د اوغانیانو په توګه راپېژني. (٤)

[۱]- شهاب الدین عبدالله حافظ ابرو، جغرافیا حافظ ابـرو، درېیم ټـوک، تهـران، آینـه میـراث، ۱۳۸۸، ۲۲۳ مخ.

[۲]- سیفي هروی، تاریخ نامه هرات، کلکته، ګلشن افست چاپخانه، ۱۹۴۳، ۱۹۹- ۲۰۰ مخونه.

[۳]- محمود کتبي، تاریخ آل مظفر، جلد اول، تهران: دانشګاه تهران، ۱۳۴۶، ۸۷، ۱۹۸، ۲۳۵ مخونه.

[۴]- هماغه اثر، جلد دوم، تهران، ۱۳۴۷، ۲۰۷ مخ.

حافظ ابروهم پخپل اثر (( جغرافیای حافظ ابرو)) کې ترکان د اوغاني په نامه او هزاره د اوغان او افغان په نامه را پېژني. ([1]) همدا رنګه خواند میر پخپل اثر ((حبیب السیرفي الخبار اولاد البشر ۱۵۲۰- ۱۵۲۳ م.) کې مغول او هزاره د اوغاني په نامه را معرفي کوي. ([2])

میرخواند پخپل اثر ((تاریخ روضة الصفا)) کې افغانان له مغولو سره ګډوي او هزاره د افغان په توګه راپېژني. ([3]) دغه راز د تیموریانو د وخت یو بل مشهور لیکوال عبدالرزاق سمرقندي هم ترکان د افغان په توګه را پېژني. ([4]) پس ویلای شو چې افغان د پښتون اصلي نوم نه دی، بلکې د افغانستان د نورو قومونو په څېر د هغه ملي نوم دی او ټول قومونه باید یو شان ورباندې وویاړي.

له پورته تشریحاتو څخه زموږ مقصد د او، چې افغان کلمه لرغونی تاریخ لري او له بابر څخه وړاندې په بېلابېلو وختونو کې مؤرخینو دافغانستان د ټولو قومونو لپاره په کاروړي ده. بابر هم د شپاړسمې مېلادي پېړۍ په پیل کې د پښتنو لپاره د افغان کلمه استعمال کړې ده، یعنی دا کومه نوې خبره نه وه.

---

[1]- حافظ ابرو، جغرافیای ابرو، جلد سوم، تهران، اینه میراث، ۱۳۷۸، ۱۵۱، ۱۵۲، ۱۷۶- ۱۷۷ مخونه.

[2]- غیاث الدین خواندمیر، تاریخ حبیب السیر في الخبار اولادالبشر- جلد سوم، تهران، کتابخانه خیام، ۱۳۳۳، ۲۸۳- ۲۸۶، ۳۲۰ مخونه.

[3]- میرخواند، تاریخ روضة الصفا، جلد جهارم، تهران، چاپ پیروز، ۱۳۳۹، ۴۷۳- ۴۷۴ مخونه.

[4]- عبدالرزاق سمرقندي، مطلع سعدین و مجمع بحرین، جلد دوم، جز سوم، لاهور، چاپخانه ګیلاني، ۱۹۹۳، ۲۱ مخ.

باید ووایم، چې د تیموریانو په دوره کې امیر تیمور او زمچي هغه لیکوالان دي چې پښتانه یې د افغان پر ځای پاتان (پټان) او فټان نومولي دي، لکه چې امیر تیمور لیکي، کله چې موږ کندهار ته ورسیدو، ماته یې وویل، چې دلته د ((پاتان)) او پټان د طایفې خلک اوسیږي. [1] دغه راز زمچی اسفزاری لیکي، چې په ۷۸۵هـ. ق. کې د گوډ تیمور پر ضد ملک محمد له غور نه د زیاتو مغرورو ((فټانانو)) سره پر هرات راغی او د اختیار الدین کلاته یې اور ورکړ او ټول مغول یې ووژل. [2]

همدا رنگه ظهیرالدین محمد بابر په خپل اثر ((بابرنامه)) کې شپږ ځلې د ((افغانستان)) کلمه د پښتنو سیمو ته کارولې ده. لا تر دغه وخته د ((افغانستان)) کلمه، زموږ د هېواد لپاره د یوې ملي او سراسری کلمې په توگه نه استعمالېده. بابر د کابل د څلور خواوو د راپېژندنې په ترڅ کې لیکي: ((د کابل ولایت په جنوب کې فرمل، نغر، بنو او افغانستان موقعیت لري)) او بل ځای لیکي: ((چې د کابل په شمال ختیځ کې غرونه کافرستان دی، مثلاً: کټور او گبرک او د هغه په جنوب کې افغانستان دی)). همدارنگه بل ځای لیکي: ((په هغه کال چې ما کابل او غزنی ونیول، په کوهاټ، بنو، دشت، افغانستان او دوکي کې له ډېرو وژنو، تخت او تاز څخه وروسته د غزنی ولاړو اوبو ته راغلم)). دغه راز بل ځای لیکی: ((د خواجه اسماعیل، دشت، دوکي او افغانستان غرونه یو شانته دي....)) او همدارنگه د

[1]- مارسل بریون، منم تیمور جهانگشا (سرگذشت تیمور به قلم خود او)، څلورم چاپ، د ذبیح الله منصوری ژباړه، تهران، انتشارات کتابخانه مستوفی، ۱۳۶۲، ۲۲۷- ۲۳۱ مخونه.

[2]- معین الدین زمچی اسفزاری، روضات الجنات فی اوصاف مدینة هرت، لومړی ټوک، تهران، ۱۳۳۸، ۴۳- ۴۵ مخونه.

کوهاټ او هنګو ترمنځ د لښکرکشۍ د بيان په ترڅ کې ليکي: ((ملک بوسعيد کمری چې ټول افغانستان يې ښه پيژند، ددې لښکرکشۍ مشرتوب پرغاړه درلود)). او دغه راز بل ځای ليکي: ((په ۹۱۰هـ. ق. کال يعنی په کابل کې زموږ د اول او دوهم کال پرمهال د هندوستان د نيولو په نيت د خيبر درې له لارې پرشاور (پيښور) ته ورسېدو او د باقی چغانيانی په مرسته د بنګښ کښتنۍ برخې يعنی کوهاټ ته ولاړو او پر افغانستان مو سخت يرغل وکړ او د تورې په زور مو بنو او دشت لوټ او تالان کړل او د دوکي له لارې ووتو)).[۱]

بايد ووايم، چې د بابر له څرګندونو په ښه شان ښکاري، چې له افغانستان څخه يې مقصد پښتني سيمې دي. حبيبی صاحب په دې اړه ليکي، چې د ظهيرالدين محمد بابر د کورنۍ د واکمنۍ په دوره کې تر ۹۰۰هـ. ق. کال (۱۴۹۴ع) وروسته اکثرو تاريخ ليکونکو د افغانستان همدا ختيځه برخه تر حسن ابدال پورې ((روه)) بللې ده، چې محمد قاسم فرشته يې اوږدوالی له هراته تر حسن ابدال پورې ګڼي.[۲]

د ((افغانستان)) کلمه بابر نه ده رواج کړې، بلکې زرکاله عمر لري. په لسمه مېلادي پېړۍ کې د غزنويانو د واکمنۍ پر مهال ابوريحان البيرونی د پښتنو هېواد د ((جبال الافغانيه)) فردوسی د ((مرزافغان))، محمد بن محمد

---

۱- ظهيرالدين محمد بابر، بابرنامه (واقعات کابل)، د شفيقه يارقين ژباړه، کابل، مطبعه بهير، ۱۳۸۶، ۳۶، ۴۱، ۵۲، ۵۷، ۱۹۱ مخونه.

۲- عبدالحی حبيبی، افغان او افغانستان، پيښور، د خوست خپلواکه ټولنه، ۱۳۸۴، ۳۸ مخ.

طوسی د ((حد افغانیان))، مسعود سعد سلمان د ((کشور افغان)) په نامه نومولي دی. [1]

سیفی هروی پخپل اثر ((تاریخ نامه هرات)) کې (۴۶) ځلې د افغانستان کلمه او دوه ځلي د اوغانستان کلمه د پښتنو د هېواد لپاره په کار وړي. (وګورئ د زیاتو معلوماتو لپاره د ((تاریخ نامه هرات اثر)).

ډاکتر تږی لیکي، چې د سیفی هروی د تاریخنامې او د زمچی اسفزاری د روضات‌الجنات له ځینو تذکراتو نه داسې ښکاري چې هغوی ((افغانستان)) هغه سیمه بولي چې د کندهار له بیخی غربي حد نه تر اباسینده او له کشمیر نه د عربو د بحیرې د غاړې تر حدودو پورې امتداد لري. [2]

له سیفی هروی څخه وروسته ابن بطوطه، زمچی اسفزاری، فرشته، کمال الدین عبدالرزاق سمرقندی، ضیأالدین برنی، عبدالقادربدایونی، آخوند درویزه، او بالاخره ګوډ تیمور پخپل اثر ((ملفوظات تیموری)) کې لیکی: ((ما د افغانستان)) هېواد، چې د سلیمان غرونو راچاپېر کړی، فتح کړ)). [3]
په نتیجه کې ویلای شو، چې له بابر دوه پېړۍ وړاندې د مؤرخینو او واکمنانو له خوا پښتني سیمو ته د ((افغانستان))په نامه خطاب کېده او دا کلمه رواج وه.

---

[1]- محمد شریف ځدراڼ، د مغولو او تیموریانو د واکمنۍ پرمهال د پښتنو حالت څېړنه (۱۲۲۱-۱۵۰۷م.) کمپیوتری نسخه، ۹۹مخ.

[2]-حبیب الله تږی، پښتانه، پېښور، د پښتني فرهنګ د ودې ټولنه (جرمنی)، ۱۳۷۷، ۲۲۶ مخ.

[3]- محمد حسن کاکړ، افغان افغانستان، کابل، د پوهنتون مطبعه، ۱۳۵۷، ۹- ۱۰ مخونه.

دغه راز له تاریخ نه ډېر ناخبره کسان ادعاکوي، چې د افغانستان کلمه د لومړی ځل لپاره په ۱۸۰۱م. کال د انګلیس او ایران ترمنځ په لاسلیک شوې معاهده کې په رسمی ډول ذکر شوې ده. خو واقعیت دادی، چې د افغانستان کلمه او نوم د لومړی ځل لپاره د چنګیزخان دلمسی منکوخان په هغه رسمي او دولتی فرمان کې چې د هرات واکمن ملک شمس‌الدین کرت ته یې په ۱۳۴۷میلادي کال ورکړ، راغلی او ثبت شوی دی.[1]

ظهیرالدین محمد بابر د خپلې واکمنۍ پرمهال د کابل په ښار کې د پښتنو او د هغوي د کلی ((ده افغانان)) په اړه دوه ځلې یادونه کوي.[2] په داسې حال کې چې ابن بطوطه دوه پېړۍ مخکې کابل ته راغلی و، په دې باب داسې لیکي، چې پخوا کابل یو ستر ښارو او اوس له هغه یو کلی پاتې دی، چې د عجمو یوه طایفه د ((افغان)) په نامه ورکې اوسي او هم د شیخ اسماعیل افغانی په نامه یو روحاني دلته ژوند کوي.[3] افغان لیکوال وکیلی پوپلزی لیکي، چې په ډېره پخوانۍ زمانه کې د کابل آسمایي غره په ختیځ کې پښتنو یو کلی پخپله نامه جوړ کړ او د ((ده افغانان)) په نامه یې ونوماوه. د ((ده افغانان)) اوسیدونکو د کابل بالاحصار په شاوخوا کې زراعتی ځمکې او باغونه درلودل. د ستور قصر، ارګ، بستان، ګلستان او ګردان سرای (اوسنی پارک زرنګار) د ده افغانانو په املاکو کې شامل وو او له قدیمه یې په همدې نامه شهرت درلود. اعلیحضرت امان الله شاه په ۱۲۹۹هـ.

---

۱- سیفی هروی، تاریخ نامه هرات، کلکته، ۱۹۴۳، ۱۵۹- ۱۷۰ مخونه.

۲- ظهیرالدین محمد بابر، بابرنامه، په روسي محمد صالح ژباړه، تاشکند، د ازبکستان د علومو اکاډمي، ۱۹۵۸، ۲۵۱، ۲۷۵مخونه.

۳- ابن بطوطه، سفرنامه ابن بطوطه، لومړی ټوک، تهران، ۱۳۴۸، ۴۶- ۴۴۷ مخونه.

ش. کال د نفوسو د تذکرې ویش رواج کړ او چې کله یې پخپله تذکره اخیسته، ویې ویل، چې زما په تذکره کې ولیکئ: ((امان الله ساکن ده افغانان کابل)) [۱]

بابر دغه راز د کابل په ولایت کې د مېشتو قومونو، قبایلو او ژبو په باب معلومات وړاندې کوي او لیکي: ((د کابل په ولایت کې بېلابېل قومونه او قبایل اوسېږي، چې په اوارو سیمو او دروکې ایماق، ترک او عرب ژوند کوي. په ښارونو، ناحیو او کلیو کې سارتی، پشه یي، پراچي، تاجیک، بیرکي او افغان (پښتانه) قبایل اوسېږي. د غزنی په غرونو کې هزاره او نوکداري قبایل اوسي او د هغو له جملې نه یو شمېر په مغولی ژبه خبرې کوي. په شمال ختیځ غرونو کې کافر (اوسنی نورستانیان) لکه کټور او ګبریګي هستوګنه لري، په جنوب کې افغاني (پښتني) قبایل مېشت دي. د کابل په ولایت کې په (۱۱) یا (۱۲) ژبو، لکه عربی، فارسی، ترکي، هندي، افغاني (پښتو)، پشه یي، پراچی، ګبري، بیرکي او لغماني باندې غږیږي)) [۲]

وګورئ بابر په پورته څرګندونو کې پښتانه د افغان په نامه او پښتو ژبه د افغاني ژبې په نامه راپېژني. همدارنګه د کابل په ښار کې د ابن بطوطه په څېر د پښتنو د ټاټوبی یادونه کوي.

دغه راز بابر په ۱۵۰۴م. کې د کابل بالاحصار د نیولو پرمهال د ((بي بي مهرو)) د تاریخي ځای، سیمې او تپې یادونه کوي او لیکي: ((کله چې بي

---

۱- عزیزالدین وکیلی پوپلزایي، فرهنګ کابل باستان، لومړی ټوک، کابل، مطبعه احمد، ۱۳۸۷، ۱۰۶ مخ.
۲- ظهیرالدین محمد بابر، بابرنامه، په روسی د محمد صالح ژباړه، تاشکند، ۱۹۵۸، ۱۵۵ مخ.

بي مهرو ته راورسیدو له بالاحصار څخه د اورلمبې پورته شوې)). [1] په داسې حال کې چې د آریانا په دایرة‌المعارف کې د بي بي مهرو د سیمې او تپې نومونه د انګریزانو پر ضد د افغانانو د پاڅون او بیا ددغه پاڅون په ترڅ کې د دوو ځوانانو- بي بي مهرو او د هغه د نامزد له شهادت سره تړاو ورکوي او لیکي چې د سیمې خلکو ددغو دوو نامزدو ځوانانو د مېړانې او شهادت په وجه دغه منطقه د ((بي بي مهرو)) په نامه ونوموله او زیارت یې د تپې پر سر اوس هم موجود دی. [2]

دغه راز ((بي بي مهرو)) د افغانستان جغرافیایي قاموس د لومړی ټوک په ۲۹۸ مخ کې داسې راپېژندل شوې ده: ((یو کلی دی، چې د کابل په شمال ختیځ کې د دریو کیلومترو په واټن د یوې تپې په ختیځه لمن کې موقعیت لري او د ((بي بي مهرو)) په نامه شهرت لري. یو وخت دغه کلی د ده سبز څلورمه درجه حکومتی مرکز و)) [3]

له پور ته ځرګندونو څخه دا نتیجه اخلو، چې د بي بي مهرو کلی، تپه او سیمه په تاریخي لحاظ له شپاړسمې مېلادي پېړۍ نه مخکې شهرت درلود او نو ځکه ظهیرالدین محمد بابر د کابل ښارته د ننوتو پرمهال (۱۵۰۴م. کال سپټمبر) د بي بي مهرو یادونه کوي.

---

۱- ظهیرالدین محمد بابر، بابرنامه، په روسی د محمد صالح ژباړه، تاشکند، ۱۹۵۸، ۲۳۰ مخ.

۲- آریانا دایرة‌المعارف، دویم ټوک، دویم چاپ، د افغانستان د علومو اکاډمی، د دایرة‌المعارف ریاست، کابل، د نبراسکا مطبعه، ۱۳۸۷، ۲۸۷ مخ.

۳- د افغانستان جغرافیایي قاموس، لومړی ټوک، کابل، د آریانا دایرة‌المعارف ټولنه، ۱۳۳۵، ۲۹۸ مخ.

بابر د نورو پښتني قبیلو ترڅنګ په لوګر او زرمت کې د ((اوغان شال)) قبیله او قبایل رامعرفی کوي او لیکي، چې په لوګر کې د چرخ خلک او د زرمت خلک ((اوغان شال)) دي. [1] خو په تاریخ بیهقی (د ۱۰۵۹م. کال په حدود کې لیکل شوی) کې درې نیمې پېړۍ مخکې ((افغان شال)) په غزنې کې د سیمې او ځایونو په نامه را پېژندل شوی او خواجه ابوالفضل محمد بن حسین بیهقی لیکي: ((مسعود له هغه باغ څخه راووت او د صحرا په لور روان شو، لویان او مشران هم ورسره وو. په ((افغان شال)) کې د امیر عادل سبکتګین قبرته ورغی او زیارت یې وکړ... د رود پر هغه غاړه چې د افغان شال خواته دی ډېر سلطانی اسونه تړلي وو... امیر په افغان شال کې محمودی ماڼۍ ته بیاراغی.... رسولان یې ولیدل او په افغان شال، رسوله میدان او په پازارونو کې یې هغه دینارونه او درمونه چې له رسولانو پاتې وو پرخلکو وویشل... او په افغان شال کې زړې محمودی ماڼۍ ته د مبارکۍ لپاره راغی)) [2]

شاید یو څوک وپوښتي، چې د تاریخ بیهقي او د بابر نامې ترمنځ دا توپیر په څه مفهوم دی؟ زما په عقیده د تاریخ بیهقي د څرګندونو مقصد په غزنی کې د افغان شال پښتني قبایلو د اوسیدو د ځایونو راپېژندل دي، ځکه اوس هم ډېرې داسې سیمې او ځایونه شته چې د پښتني قومونو په نامه

[1]- ظهیرالدین محمد بابر، بابرنامه، په روسی د محمد صالح ژباړه، تاشکند، ۱۹۵۸، ۱۶۳، ۱۶۴ مخونه.

[2]- ابوالفضل محمد بن حسین بیهقی، تاریخ بیهقی، د داکتر علی اکبر فیاض سمونه، کابل، دولتی مطبعه، ۱۳۶۴، ۳۳۵، ۳۴۰، ۳۵۵، ۵۴۹، ۶۵۱ مخونه، دغه راز وګورئ د فرهنګ تاریخ بیهقی اثر، ۲۸۴ مخ.

یادیږي، خو د دواړو مقصد د افغان (پښتني)) قبایلو راپېژندل دي. واقعیت دادی چې له لرغونو زمانو راهیسې په غزني، لوګر او د پکتیا په زرمت کې د پښتنو بېلابېلې قبیلې او قبایل اوسیدل او دا ددوی لرغونی ټاټوبی دی.

خو دا هم یو واقعیت دی، چې اوس مهال په غزني، لوګر او زرمت کې د افغان شال او اوغان شال په نامه کوم ځای او یا قبیله او خېل نه یادیږي. ځکه د سیمې او ځایونو نومونه د زمانې په تیریدو سره بدلیږي او قبایل په خپلو کې سره ګډیږي.

عظیم جانووالیکي، چې بابر د مومندو سره ترپایه دوستانه اړیکې وساتلې او په ۱۵۰۷م. کې یې پر دوی یرغل ونه کړ. خو زه د بابر په قول وایم، چې هغه د مومندو په اړوند دغه سیاست تر پایه تعقیب نه کړ او یو کال وروسته (د ۱۵۰۸م. کال په پسرلی کې) یې د مقر پر مومندو تیری او یرغل وکړ.[1] همدارنګه عظیم جانووا د بابر په پوځي لښکرو کې د هزاره-ګانو برخه اخیستنه ردوی.[2] په داسې حال کې چې د ډهلي او اګرې د فتح پرمهال د بابر په لښکرو کې پښتنو، هزاره ګانو، عربو او بلوڅو برخه درلوده.[3]

دغه راز عظیم جانووا په باجوړ کې د بابر له قتل عام څخه هیڅ یادونه، نه کوي او یواځې دومره لیکي، چې بابر په دغه جګړه کې له اوربلونکې وسلې (ټوپک) څخه د لومړی ځل لپاره کار واخیست.

[1]- ظهیرالدین محمد بابر، بابرنامه، په روسي ژبه د محمد صالح ژباړه، تاشکند، ۱۹۵۸، ۲۳۶، ۲۵۰ مخونه.

[2]- عظیم جانووا ص .ع. ، په کابل او هند کې د بابر واکمنی، مسکو، ناوکا، ۱۹۷۷، ۷۷ مخ.

[3]- ظهیرالدین محمد بابر، بابرنامه، په روسی د محمد صالح ژباړه، تاشکند، ۱۹۵۸، ۳۳۸ مخ.

خو واقعیت دادی، چې بابر نه یواځې د باجوړیانو خپلواکۍ ته درنښت ونه کړ، بلکې د هغوی درې زره کسان یې قتل عام کړل او دی پخپله داسې لیکي: ((حیدرعلی باجوری د باجوړ سلطان و او دغه ولایت یې ښه اداره کاوه... موږ د ۱۵۱۹م. کال د جنوري په دریمه د باجوړ سلطان ته د دلزاکو د قوم یو محترم افغان ورواستاوه تر څو د باجوړ خلکو او سلطان ته، زما په وړاندې د اطاعت کولو او د کلا د تسلیمیدو مشوره ورکړي، خو دغو ناپوهو او بدمرغو خلکو مشوره ونه منله او بې مانا ځواب یې راکړ... نو ځکه هغوي ټول قتل عام او د هغوی د کورنیو غړي، ښځې او ماشومان اسیر شول او نږدې درې زره کسان ووژل شول... دغه راز له یو شمېر سلطانانو او سرغړونکو څخه موسرونه پرې کړل او د خپل برې د اعلان اوزیری په توګه مود هغوی ککرۍ کابل، بدخشان، کندز او بلخ ته واستولې او له نورو پاتې ککریو څخه مود باجوړ په دره کې یو منار جوړ کړ)).[1]

بابر په افغانستان او هندوستان کې په لس ګونو عامه وژنې کړي او د پښتنو له سرونو څخه یې د مغولو او تیموریانو په دود منارونه جوړ کړي دي. (د زیاتو معلوماتو لپاره د بابرنامې متن وګورئ.) بابر یواځې له هغو پښتني قبایلو سره دوستانه اړیکې ساتلې چې بې له قید او شرط څخه یې ده ته اطاعت کاوه او دده په چوپړ کې وو. بې له شکه بابر د یوه نیواکګر او امپراتور په توګه د افغانستان او هندوستان له ولسونو سره چلند کړی دی.

عظیم جانوالیکي، چې بابر د یوسفزیو د لوی قوم د باور او ملاتړ د ترلاسه کولو په موخه ددې قوم د مشر له لور سره واده وکړ. بابر پخپله هم

[1]- همدغه اثر، ۲۵۴ مخ.

ليکي، چې د يوسفزيو سره دښو اړيکو په خاطر، ما د ملک شاه منصور د لور سره د واده کولو غوښتنه وکړه.)) [1] ملک شاه منصور په سوات کې د يوسفزيو غښتلی محلي سلطان و. او د هغه لور د پير معظم شاه په اثر ((تواريخ حافظ رحمت خاني)) او د خوشحال خان خټک په اثر ((سوات نامه)) او د ظفرکاکاخيل په اثر ((پښتانه د تاريخ په رڼا کې)) او د سراولف کارو په اثر ((پښتانه)) کې د بي بي مبارکې په نامه شهرت لري. خو د بابر لور گلبدن بيگم اغلې بي بي مبارکه د ((افغانی آغاچه)) په نامه راپېژني.[2] بي بي مبارکه د اکبر پادشاه تر زمانې (۱۵۵۵-۱۶۰۵م.) پورې ژوندۍ وه. [3]

دغه راز بابر د کابل ولايت (افغانستان) او هندوستان ترمنځ د طبيعی سرحد په باب ليکي، چې ((د سند له درياب څخه ورپورېوزې، ځمکه، اوبه، ډبرې، ونې، لارې، خلک او رسم رواجونه ټول هندوستاني کېږي)).[4] ضمير صافی د بابرنامې د بيورج انگريزي ژباړلې د ۴۸۴ مخ په حواله ليکي: ((کله چې د سند درياب نه ورپورېوزې، ټول شيان، لکه ځمکه، اوبه، ونې، غرونه، ډبرې، خلک، قومونه، رسم رواجونه او کالي هندوستانی کېږي)) [5]

سيفي هروي پخپل اثر ((تاريخ نامه هرات)) کې د افغانستان او هندوستان ترمنځ سرحد د سند سيندگڼي او د هرات د واکمن ملک شمس

[1]- ظهيرالدين محمد بابر، بابرنامه، په روسی د محمد صالح ژباړه، تاشکند، ۱۹۵۸، ۱۵۵-۱۵۸، ۲۵۳-۲۵۵ مخونه.

[2]- گلبدن بيگم، همايون نامه، لاهور، ۱۹۷۴، ۱۸۴، ۱۸۹، ۱۹۰، ۱۹۷، ۲۰۲، ۲۴۸ مخونه.

[3]- سراولف کارو، پښتانه، د الحاج شېر محمد کريمی ژباړه، پېښور، ۱۳۷۸، ۲۴۸ مخونه.

[4]- ظهيرالدين محمد بابر، بابرنامه، په روسی د محمد صالح ژباړه، تاشکند، ۱۹۵۸، ۱۵۲-۱۵۴ مخونه.

[5]- محمد حسن ضمير صافی، تاريخ افغانستان از ۱۵۰۱-۱۷۴۷م. پوهنتون کابل، ۱۹۸۷، ۹ مخ.

الدين کرت د یوه فرمان په اړه لیکي، چې ((فرمان مو... افغانستان ته ان د سند تر سنده او د هند تر حده واستاوه)). [1] له پورته فرمان څخه هم څرګندیږي چې په دیارلسمه میلادي پېړۍ کې هم د سند سیند د افغانستان او هندوستان ترمنځ یو طبیعي او سیاسي حد و. دا تاریخي واقعیت اوس هم تر سترګو کیږي، کله چې سړی د اټک او یا سند پر دریاب ورتېرشي، نو سملاسی هر څه بدلیږي؛ پښتون او پښتو ژبه، رواجونه، رنګونه او څېرې، خویونه او کالي په بشپړه توګه پر پنجابي او پنجابۍ ژبه، رواجونو، رنګونو او څېرو باندې بدلیږي او سړی داسې ګومان کوي چې له افغاني دنیا څخه یوې بلې نوې دنیا ته داخل شوم.

بابر له کابل نه پنځه ځلې د هندوستان د نیولو په موخه پوځي سوقیات وکړل او د ۱۵۲۶م. کال د اپریل پر یو ویشتمه نېټه یې د پاني پت په ډګر کې د لودیانو وروستی واکمن سلطان ابراهیم په شهادت ورساوه او په ډهلي کې یې د پښتنو (۷۵) کلنه واکمني پای ته ورسوله.

په پاني پت کې د بابر د برۍ لاملونه داوو: لومړی- د سلطان ابرهیم لودي او د هغه امیرانو بې اتفاقي. دوهم- لودي پوځونو مدرنه توپخانه او جنګي وسایل نه درلودل. دریېم- د بابر سره زیات پښتانه جنګیالي او امیران د سلطان ابراهیم پر ضد یو ځای شوی وو لکه چې خوشحال خان خټک په دې باب وایی:

بیا له پاسه د ډهلي بادشاه بابر شو

چې یې کار د پښتـــانه په بــرکت و

[1]- سیفي هروی، تاریخ نامه هرات، کلکته، ۱۹۴۳، ۱۶۴ مخ.

دلته غواړم د کوه نور الماس په اړه د وکیلی پوپلزایي هغه څرګندونې، چې لیکي، د سلطان ابراهیم لودي مور د کوه نور الماس چې د سلطان علاوالدین خلجی له خزانې څخه پاتې و، بابر شاه ته یې واستاوه، د بابر په قول دغه مطلب داسې تصحیح کوم. [1] بابر لیکی، کله چې همایون داګرې ښارونیو او موږ ته انتظارو. اګرې ته زموږ په وررسیدو سره د بکر ماجیت راجه کورنۍ ډېر ښکلي او قیمتي کاڼي او په هغه جمله کې مشهور د کوه نور الماس چې د علاوالدین خلجی څخه پاتې و، همایون ته وسپاره. نوموړی الماس دومره شهرت درلود، چې یوه سوداګر د هغه بیه د ټولې نړۍ د ورځنی لګښت له دوه نیمې برخې سره برابره ټاکلی وه. شاید د هغه وزن اته مثقاله و. زه چې کله اګرې ته ورسیدم، د همایون له خوا دغه الماس ماته راوړل شو او مابېرته هغه ته ډالۍ کړ. [2]

بابر او شېرشاه سوري په تصادفی ډول په یوه میلمستیا کې سره مخامخ کېږي؛ د شېرشاه په لیدلو سره د بابر په زړه کې ویره پیدا کېږي او دده د شخصیت په اړه داسې لیکي: ((ما ډېر افغانان (پښتانه) لیدلي وو، خو په زړه کې مې ور څخه ویره نه وه راغلې، دده په لیدومې زړه داسې راته وویل، چې ویې نیسم، ځکه د لویوالی نښې یې په تندی کې لیدل کیدې...))[3] د بابر ویره او نظر پر ځای و، ځکه همدغه شېرشاه و چې د بابر په وړاندې یې

---

[1]- عزیزالدین وکیلی پوپلزایي، کوه نور او افغانستان، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸٦، ۳ مخ.

[2]- ظهیرالدین محمد بابر، بابرنامه، په روسی د محمد صالح ژباړه، تاشکند، ۱۹۵۸، ۳۱۱ مخونه.

[3]- عباس سروانی، شېرشاهی تاریخ، د ډاکتر دولت محمد لودین ژباړه، کابل، پښتو ټولنه، دولتی مطبعه، ۱۳۵۴، ۱۳، ٦۹- ۷۱ مخونه.

خپل مقاومت پیل او دده زوی- همایون ته یې ماتې ورکړه او په هندوستان کې یې د پښتنو واکمني یو ځل بیا احیأ کړه.

په نتیجه کې ویلای شو، چې ظهیرالدین محمد بابر یو ستر سیاسي، پوځي او فرهنګي شخصیت و، چې په فرغانه، کابل او شمالي هندوستان کې یې د واکمنۍ او فرهنګپالۍ سترې کارنامې په میراث پاتې دي. خو د ((بابرنامې)) په قول، هغه د ملکونو د فتح او د ملتونو د اسیرولو په خاطر عامه وژنې کړې او د خلکو له سرونو یې د مغولو په دود منارونه جوړ کړي دي. هغه کابل اشغال کړ او له هغه یې د پوځي مرکز په توګه استفاده وکړه، په افغانستان او هندوستان کې یې د پښتنو واکمنۍ یو په بل پسې راوپرځولې او د پښتونخوا غرونه او رغونه یې د پښتنو په وینو سره کړل. هغه په ټولو پوځي سوقیاتو کې د لوټمارۍ، تشدد او عامه وژنو پر بنسټ د خپلې واکمنۍ او امپراتورۍ بنسټونه کېښودل.

# د لیکوال سریزه

د شپاړسمې میلادي پېړۍ لومړي دېرش کلونه د منځنۍ آسیا، افغانستان او هند لپاره په تاریخ کې غوره دوره وه. ددې سیمې د دولتونو او ټولنیز ژوندانه غوره ځانګړتیا دا وه، چې د فیوډالي تجزیې په لور ټاکلی تمایل رامنځ ته شوی و.

فیوډالي خپل منځي مخالفتونو او لانجو د پراخو ټولنیزو قشرونو او په ځانګړې توګه د بزګرانو پر ژوندانه باندې وژونکې اغېزې شیندلې وې. جبري او ظالمانه مالیاتو د بزګرانو اقتصاد کمزوری او ویجاړ کړی و. د ښار د زیارکښانو او کسبګرو ژوند له کړاوونو سره مخ و. د دغه ناوړه حالت له امله د پنځلسمې میلادي پېړۍ په وروستیو کې چټکه ټولنیزه مبارزه ترسترګو کېده، چې د کلیو او ښارونو د اوسېدونکو د ټولنیزې مبارزې او د مذهبي غورځنګونو د پیاوړتیا او د زیاتو فرقو د رامنځ ته کېدو لامل شوه او د سنتي اسلام او هندوییزم ضد تمایل یې درلود.

سوداګر له خپل منځي لانجو ربړېدل، د سوداګرۍ د راکړې ورکړې د کموالی او د دوی پر تجارتي کاروانونو باندې د لاروهوونکو د برېدونو او تالان له امله یې زیات زیانونه زغمل. له همدې امله دوی په فیوډالي ضد احتجاجونو کې ورګډ شول.

زیاتره فیوډالان چې د عوایدو د کموالي او د بزګري اقتصاد د زوال له امله لاس تنګي شوي وو، دې ته اړ شول چې خپل طبقاتي اتحاد ټینګ کړي، څو له خپل طبقاتي دریځ څخه دفاع وکولای شي او فیوډالي ضد مخالفین وځپي. ورسره جوخت د شپاړسمې میلادي پېړۍ لومړۍ نیمایي د

ځواکونو د یووالي او پیاوړتیا شاهده وه، د همدغو ټولنیزو ځواکونو د یووالي او اتحاد په نتیجه کې وو، چې په ایران او جنوبي آذربایجان کې د صفویانو دولت، په منځنۍ آسیا کې د کوچي ازبک شیباني خان دولت او وروسته په کابل او شمالي هند کې د بابر دولت جوړ شو.

په دغه اثر کې د بابري دولت د جوړېدو تاریخ، چې د هند د ټولنیز فیوډالي نظام په برخه کې د سیاسي یووالي یو له مهمو پړاوونو څخه و او آن د بابر ځای ناستو دوام ورکړ، څېړل کېږي. په دغه څېړنه کې د ټولنیزو او اقتصادي اړیکو او واک ته د بابر له رسېدو مخکې د پرمختیا یي پروسې یو شمېر ځانګړتیاوې مطالعه او څېړل شوي دي.

بابر، زموږ تر وخته په ډېرو څېړنیزو آثارو کې تر ډېره یواځې د یوه فاتح، شاعر او خاطرو لیکونکي په توګه راپېژندل شوی دی. خو موږ د تاریخي منابعوو پربنسټ هڅه وکړه، چې د بابر اداري فعالیتونه، د افغانستان او هند د قبایلو او اشرافو په اړه د ده سیاست او د ده په دولت کې ټولنیزې او اقتصادي اړیکې هم وڅېړو.

د دې اثر لیکوال په خوشحالۍ سره د ځان دنده ګڼي چې د شوروي اتحاد د علومو اکاډمۍ د ختیځ پېژندنې انستیتوت د هند، سریلانکا، نیپال، بنګله دېش او پاکستان د څانګو د علمي همکارانو او د ازبکستان د علومو اکاډمۍ د انستیتوت له همکارانو او له نورو هم مسلکو پوهانو له همکاریو او د دې کتاب په اړه د دوی له نظریاتو او ارزونو څخه مننه وکړم. او دغه راز د شوروي ازبکستان د علومو اکاډمۍ له اکاډمیسین ای.م. مومینووا او